همکاری
آلمان
DEUTSCHE ZUSAMMENARBEIT

# د هوکړې لاسلیک: المان د افغانستان سره د ۵،۴ میلیاردو افغانیو په کچه نوره مالي مرسته کوي

د نومورې غونډې په ترځ کې د افغانستان د مالیې وزیر پروفیسو محمد قیومي او د KfW د پراختیایي بانک مشر ښاغلي کریستیان کریمر د المان د اقتصادي همکاریو او پراختیا د فدرال وزارت د مرستیال ښاغلي مارتین ییګر په شتون کې د افغانستان د بیارغونې د وجهي صندوق د تمویل په باب د هوکړې د لاسلیک مراسم پرځای کړل. په دغه هوکړه لیک کې په نومورې وجهي صندوق کې د المان د مالي ژمنې جزئیات تسجیل شوي دي.

په دغو مراسمو کې ښاغلي ییګر داسې وینا وکړه: «د افغانستان د بیارغونې وجهي صندوق د حکومت د اصلاحاتو د مهمو لړیو د اوچتولو او د بېړنيو د همغږۍ د پیاوړي کولو له لارې په افغانستان د ښې حکومتولۍ د هڅونې لپاره د یوه ډیر اړونده ابزار په توګه پاتې کیږي. له همدې امله د المان حکومت د المان د اقتصادي همکاریو او پراختیا د وزارت (BMZ) له لارې په نومورې صندوق کې د خپلې ونډې ته ژمن پاتې کیږي او باور لري چې دا وجهي صندوق به د پخوا په شان د هیواد د اړتیاوو سره سم تکامل وکړي او تر ۲۰۲۴ کاله پورې به خپل بسیاتوب ته ورسیږي.»

د افغانستان د بیارغونې وجهي صندوق د افغان حکومت د بودجې او د لومړیتوب د ملي پروژو د تمویل لپاره یو منسجم او همغږۍ میکانیزم برابروي. برسیره پردې، دغه صندوق د نړیوالې ټولنې او افغان حکومت تر منځ د سیاسي ډیالوګ لپاره یو پلاتفرم جوړوي او موخه یې د افغان حکومت د ثبات او پایداري څخه ملاتړ او د لوړې په وړاندې د مبارزې سره مرسته ده. دا صندوق د هیواد پوهنې، روغتیا، کرنې، د کلیو د پراختیا او حکومتولۍ په مهمو سکتورونو کې فعاله دئ.

د نورو اقداموتو تر څنګ د افغانستان د بیارغونې وجهي صندوق، «ولسي تړون» چې د هیواد د لومړیتوب د ملي پروګرامونو په ډله کې راځي، تمویلوي. د دې تړون موخه داده چې سیمو ته د اصلي بیخناوو او ټولنیزو خدمتونو برابرول د سیمه ایزو پراختیایي شوراګانو د پیاوړي کولو له لارې سمون ورکړل شي. د دې صندوق بله برخه د کېوالو او کورنې بیځایه شویو او د هغو د کوربه ځایونو څخه ملاتړ کوي چې ۱،۵ میلیونه افغانانو ته یې ګټه رسولې ده. تر ۲۰۲۱ کاله پورې به ولسي تړون ۸،۵ میلیونو افغانانو سره مرسته وکړي چې نیم یې ښځې دي. د المان د مالي مرستې څخه به ۲،۶ میلیارده افغانۍ ترجیحاً د ولسي تړون د پلې کولو په لاره کې ولګول شي.

ولسي تړون د ملي پیوستون د پروګرام پر ځای منځته راغلی چې د ۲۰۱۳ او ۲۰۱۷ کلونو تر منځ کابو ۲۸،۶ میلیونو افغانانو ته چې نیم یې ښځې وې ګټه رسیدلې ده.

*د KfW پراختیایي بانک د المان د اقتصادي همکاریو او پراختیا د فدرال وزارت (BMZ) په استازیتوب د افغانستان د بیارغونې وجهي صندوق سره د المان د مالي مرستو مدیریت کوي. دا وجهي صندوق د نړیوال بانک له خوا اداره کیږي او موخه یې د افغان ثبات جوړنه ده. دغه صندوق ګڼ شمیر پراختیایي کارونه چې د دولتي بودجې له لارې ترسره کیږي تمویلوي او په دې توګه د افغانستان د حکومت سره د پراختیایي تګلارو د شفافه پلې کولو، د بې وزلۍ سره د مبارزې د کولو، د عوایدو د کچې د زیاتولو او د اقتصادي او ټولنیزو شرایطو د سمولو په لاره کې مرسته کوي. د ۲۰۰۲ کال راهیسې د ۳۰ نه زیاتو هیوادونو د ۸،۸ میلیارده یورو نه زیاتې پیسې نومورې وجهي صندوق ته ورکړیدي. یوازې المان په دې موده کې د ۷۲۵ میلیونو یورو نه زیاته مرسته کړیده.*

Teaser text:

کابل، د ۲۰۱۸ کال د نوامبر د میاشتې ۳۰مه نیټه – په روانه اونۍ کې د افغانستان په اړه د ژنیو غونډه د سویس په هیواد کې جوړه شوه. په دې غونډه کې نړیوالې ټولنې د سولې او سوکالۍ په لاره کې د افغانستان د خلکو او حکومت د هلوځلو سره خپل پیوستون څرګند کړ. په دې ته د ۵،۴ میلیاردو نورو مالي مرستو د (ARTF) د پراختیایي بانک له لارې د افغانستان د بیارغونې وجهي صندوق KfW مناسبت، آلمان د

برابرولو ژمنه وکړه. په ۲۰۰۲ کال کې د نوموړي صندوق د بنسټ ایښودلو راهیسې چې نړیوال بانک یې مدیریت کوي تر ۲۰۱۷ کاله پورې کابو ۱۱،۵ میلیونو افغانانو ته ګټه رسیدلې ده. د المان حکومت د ۶۲ میلیاردو افغانیو نه زیات د دې وجهي صندوق سره مرسته کړیده چې له دې امله یو تر ټولو لویو دوه اړخیزه پورنرانو له ډلې څخه شمیرل کیږي.

تقدمونه:

ښه حکومتوالي

ښاری پراختیا او د ښاروالۍ بیخبنا

د انعطاف وړ پروګرام جوړونه

بیځایه کیدل او کډوالي

پایښتونکي اقتصادي پراختیا او کارجوړونه

Province:

ټول هیواد

Downloads:

د هوکړې لاسلیک: المان د افغانستان سره د ۵،۴ میلیاردو افغانیو په کچه نوره مالي مرسته کوي

Image:

pr_ARTF_AFN 5.6 Billion Additional German Funding

د خبر پوړ:

Press release

09.09.1397

- English
- Deutsch
- دری